## د سویډن د زده کړې د لسو اتحادیو په اړه

په سویډن کې د زده کړې لس بیلابیلې اتحادیې دي. دغه غیردولتي موسسې (NGOs) دي او په ټول هیواد کې د 370 څخه زیات غړي او مربوطې موسسې لري. په سویډن کې د زده کړې او کلتور لپاره د یوځای کیدو دغه ترټولو غټ ځای دی. د هر عمر خلک دلته راځي چې په شریکه زده کړه او پرمختګ وکړي.

د زده کړې لس اتحادیې بیلابیل پروفایلونه او ایدیالوژۍ لري. هغوی د نامتو غورځنګونو او موسسو سره قوي او ټینګې اړیکې لري او اکثر له هغوی سره په همکارۍ د زده کړې د حلقو او کلتورونو پروګرامونه ترسره کوي.

د زده کړې د اتحادیو فعالیتونه د بالغ د غیررسمي زده کړې په مرکزي ادیاګانو یعني انساني تجسس، خلاقیت او د زده کړې د خواهش پورې اساس لري. د زده کړې په دغه حلقه کې شرکت کول رضاکارانه دي.

په ټول سویډن کې – د ستر ښارونو څخه تر کمې ابادۍ د سیمو/ځایونو پورې – د زده کړې اتحادیې نورو غیردولتي موسسو (NGOs) او نورو کم غیر رسمي شبکو او ډلو ته مرسته او مشوره وړاندې کوي. د انفرادي کسانو لپاره دا شوني نه ده چې د زده کړې د اتحادیو غړي جوړ شي.

د زده کړې اتحادیې د ګټې لپاره نه چلیږي. د دې د فعالیتونو لپاره سرمایه د دولت او سیمه ییز حکومت د وظیفو، د حاضرۍ د فیسونو، د پروژې د پیسو او تړون د ښووني له خوا ورکول کیږي.

تاسي د زده کړې د لس اتحادیو د ویب پاڼو لنکونه دلته کتلې شی:

**د زده کړې د حلقو په اړه**

د زده کړې حلقه د خلکو یوه کوچنۍ ډله وي چې په شریکه څه زده کړه کوي. هغوی د خپلې خوښې تقریباً هره موضوع لوستلی شي. د زده کړې د حلقې کسان ورته علاقه لري او په دې اړه نور معلومات ترلاسه کول غواړي.

د زده کړې په دې حلقه کې د ملګرتیا احساس او په شریکه د زده کړې خواهش په دوستانه چاپیریال جوړولو کې مرسته کوي. د زده کړې ټولې حلقې لاندې خاصیتونه سره شریکوي:

- شرکت کول ټل رضاکارانه دي.
- شرکت کوونکي په فعاله توګه برخه اخلي او په شریکه د علم او زده کړې لټون کوي.
- په حلقه کې شریک هر تن په اهدافو ترلاسه کولو کې مرسته کوي.
- شرکت کوونکي په حلقه پوره تاثیر لري – په دې کې د مرکزي جریان کوم پلانونه نشته.

د زده کړې د هرې حلقې مشر وي او د سر ته رسوني لپاره یو پلان لري او په زیاتره وضعیتونو کې د لوستلو مواد لري. د زده کړې د حلقې لړ تر لړه درې مرکې ترسره کیږي، خو زیاتره وخت د دغو څخه زیاتې هم دوام کوي. په دې کې عموماً د دریو نه تر لسو پورې کسان شرکت کوي. د زده کړې د اتحادیو د حلقې فعالیتونه په بیلابیلو طریقو ترسره کیدی شي:

- د کورس په کیټلاګونو او د زده کړې د اتحادیو په ویب پاڼو د زده کړې حلقې اعلانیږي. په زړه پورې موضوعات او پوهه مشران د دې نه ډیر مشهور فعالیت جوړوي.
- د زده کړې اتحادیې په زرګونو موسسو سره په شریکه همکاري کوي او د حلقو جوړولو لپاره له هغوی سره ښه کار او همکاري کوي.
- زیاتره خلک پخپله د زده کړې حلقه پیل کوي. د خلکو یوه ډله چې یو بل پیژني، ښایي په شریکه د څه زده کولو پریکړه وکړي. د زده کړې اتحادیې دغه ډلو ته تعلیمي او عملي مرسته ورکوي.

د موضوعاتو په مثالونو کې ژبې، کلتور، هنري صنایع، روغتیا، خواړه، ټولنیز موضوعات، سیاست، ایډیالوژي، کمپیوټري روزنه، آیې ټي، موسیقي د فطرت او اقلیم موضوعات شامل وي.

**د کلتوري پروګرامونو او لیکچرو په اړه**

د زده کړې په حلقو کې خلک په بېلابېلو ډولونو د کلتور تخلیق او تجربه کوي. په کلتوري پروګرام کې لکچرې، اجراکاني، کنسرټونه، ننداراتونونه او نور کلتوري پروګرامونه شامل وي.

د زده کړې اتحادیې د سویډن د بورډ د شوقي کلتور او ټولنې په منځ کې رابطه ده. د زده کړې د اتحادیې په حلقو کې زیاتره ښودونکی کلتور د کلتوري موسسو په شراکت او همکاری جوړیږي. په زیاتره کلتوري پروګرامونو کې د کلتور مسلکي پریکټیشنرانو او لکچررانو ته هم هرکلی ویل کیږي.

هرکال د زده کړې د اتحادیو دا کلتوري پروګرامونه د سویډني سینماګانو په پرتله زیات خلک راجذبوي. په کې شمیر کوچني ښارګوټو او کلیو کې د زده کړې د اتحادیو دا کلتوري پروګرام د سیمه ییز کلتور لپاره لایف لاین او د پام وړ ګرځي. د زده کړې اتحادیې په سټیج تل نه وي. هغوی عموماً د پیښې د صحنو شا ته وي او تعلیمي، عملي او اجراییوي مرسته وړاندې کوي.

## د بالغ د غیررسمي زده کړې لپاره

په سویډن کې د زده کړې اتحادیې د بالغ د غیررسمي زده کړې لپاره د پام وړ برخه ده. د بالغ د غیررسمي زده کړې په موسسو کې د سویډن د خلکو عالي ښوونځی هم شاملې دي.

د بالغ د غیررسمي زده کړې د پام وړ خاصیتونه څه دي؟ سره له ګڼ شمیر او توپیر لرونکي فعالیتونو، هغوی ځینې عمومي ځانګړونې شریکوي:

- رضاکارانه شرکت

د بالغ غیر رسمي زده کړه د علم او پوهې د لټون لپاره د خلکو د خواهش پراساس ترسره کیږي. د زده کړې د اتحادیو په حلقو او کلتوري پروګرامونو کې د شرکت کولو پریکړه تل یو تن په خپله خوښه کوي.

- د خپل ځان لپاره د زده کړې فرصت

د بالغ په غیر رسمي زده کړه کې تاسې د کوم خاص مقصد لپاره زده کړې کولو ته اړتیا نه لرئ. زیاتره خلک په دې کې بس د خپل خواهش او شخصي علاقو پراساس شرکت کوي. دا هغه ټول علتونه دي چې تاسې ورته د بالغ په غیررسمي زده کړه کې اړتیا لرئ.

- په ملګرتیا کې زده کړه

د بالغ غیر رسمي زده کړه په ملګرتیا کې ترسره کیږي. د زده کړې حلقه د بالغ د غیر رسمي زده کړې مرکزي برخه او اساس وي. د خلکو یوه کوچنۍ ډله، مطالعه کوي، بحث کوي او د زده کړې لپاره همکاري کوي – او هغه اهداف ترلاسه کوي چې هغوی پخپله د ځان لپاره ټاکلې وي.

- خپلواکي

د بالغ په غیر رسمي زده کړه کې خلک د دې پریکړې کولو خپلواکي لري چې څه، کله او څنګه زده کړې ترلاسه کړي. د زده کړې اتحادیې هم خپلواکي لري – هغوی د بیلابیلو پروفایلونو او حیثیتونو سره خپلواکي غیر رسمي موسسې (NGOs) وي.

- د مشهور غورځنګونو سره ټینګې اړیکې

د بالغ غیر رسمي زده کړه او مشهور غورځنګونه له یو بل سره ټینګې اړیکې لري. د زده کړې زیاتره اتحادیې د غړیو په توګه مشهور غورځنګونه لري. د ټولو حلقو او کلتوري پروګرامونو غټه برخه د نورو غیردولتي موسسو (NGOs) سره په شراکت او همکارۍ ترسره کیږي. په دې سره د زده کړې اتحادیو ته دا فرصت په لاس ورځي چې د مدني ټولنې په پرمختګ او بیا پیل کولو کې د پام وړ رول ولوبوي.